# w2eu.info - welcome to europe

For freedom of movement: Independent information for refugees and migrants coming to Europe
من اجل حرية التنقل : معلومات مستقلة للاجئين و المهاجرين القادمين الى اوروبا
Pour la libre circulation: Informations indépendantes pour réfugiés et migrants arrivant en Europe
برای آزادی و حرکت : اطلاعات مستقل برای پناهندگان و مهاجران آینده در اروپا

Internet: www.w2eu.info
Updates: http://live.w2eu.info
Contact: contact@w2eu.info - |w2eu_info@yahoo.com

Last updated: *28.01.2017*

## افغان کډوالوته دډار په وړاندی معلومات

## جرمنی به د افغان کډوالو ډلیز لیږد افغانستان ته ژر نه پیلوی
## راځی چه د تاسو د پاتی کیدو د حق د خوندیتوب لپاره په ګډه مبارزه وکړو!

پدی وروستیو څو میاشتو کښی د افغانانو په منځ کښی دا ویره ډیره شویده چیری چه به المان او نور اروپایی هیوادونه د افغان کډوالو سره سم چلند نکوی ،په خاصه ټوګه پسله دی چه د ۲۰۱۶ د دسمبرمیاشتی ۱۴ کی لومړی ځل لپاره ۳۴ ځوان افغانان د فرانکفورت نه کابل ته دیپورت شو دا ویره لا نوره هم زیاته شوی ، حتی ځینی خووریدل چه هغوی به پرته له مخکینی ګواښ څخه به له کوره افغانستان ته واستول شی او کله کله داسی ګنګوسی هم وی چه دافغان کډوالو ډلیز ویستل لا د وخته پیل شوی دی **خو له نیکه مرغه دا حقیقت نلری.**

---

## ډیر اړین معلومات:

دا ممکنه نده چه د پناه غوښتنی په بهیر کښی یو مهاجر بیرته د دوی هیواد ته واستول شی دا پدی معنی ده چه تر هغه وخته چه تاسو ته د پناه غوښتنی د پریکړی خبرتیا (Bescheid) نه وی ترلاسه کړی او یا ستاسو پناه غوښتنه رد شوی نوی نو تاسو د ایستلو د ګواښ سره مخامخ نه یاست . د پناه غوښتنی د بهیر تر پایه او یا دهغه مخکی او یا د مخامخ مرکی پرته هیڅوک نه ویستل کیږی.

دا ډیره مهمه ده چې تاسو په خپله ځان ځان ته پاملرنه وکړی، باید پریږده چې Bundesamt تل ستاسو د اوسنی ادرس په باره کی پوښی، حتی که تاسو د خپله د چارواکو له خوا بل ځای ته انتقال شوی یاست .کېدای شي دا پېښ شي چې تاسو د مرکې لپاره بلنه او یا ستاسې د پریکړې غلط ادرس ته واستوي – او یا دا چې ستاسې د پناه غوښتنې کړنالره پرته د مرکې رد کړي یا چې تاسو د دی پریکړې په وړاندې د استیناف غوښتنه وقت له لاسه ورکړی.

خو د هغو ټول کسانو لپاره په ځانګړې توګه) ځوانان(، چې نه یوازې د Bundesamt له خوانه خو د محکمې له خوانه هم رد شوي دي او دا چې یوازی "Duldung"یا د تحمل حالت اسناد لری هغو ته واضع دیره خطرناکه شوی .تاسو باید له مخکې نه لا نور هم ډېر پام اوکړی او یا خپل وکیل سره مشوره، وکری چې کوم اقدامات باید ونیول شي لکه، د اوس نه د "خوندیتوب ته / یا "Härtefallantrag" لپاره اقدام وکری.

که چیری تاسی دویریږی احساس کوی نو د مشوری لپاره مونږ سره پدی پته اړیکه ټینګه کړی
: [http:// w2eu.info/germany.en/articles/germany.con-contacts.en.html](http://w2eu.info/germany.en/articles/germany.con-contacts.en.html)دلته
[: https://www.proasyl.de/beratungsstellen-vor-ort/](https://www.proasyl.de/beratungsstellen-vor-ort/) او یا دلته
او یا په دی شمیره تیلفون وکړی Tel:049 069-242314 20( proasyl@proasyl.de or email (Mo-Fr 10-12 & 14-16:

**اوسنی وضیعت** : په اوسنی حالت کښی د جرمنی څخه د افغان کډوال دیپورتی شروع شوی ده خو په ډلیز ډول نه ویستل کیږی.

- د ۲۰۱۶ کال داکتوبر د میاشتی په پیل کښی د اروپایی ټولنی او د افغانستان د حکومت تر منځ یو هوکړه لیک لاس لیک شو چه په هغه کښی افغان حکومت ژمنه کړی ده کوم کډوال چه ندی قبول شوی او یا د

تحمل (Duldung ) اسناد لری د هغوی د بیرته ستنیدو سره مرسته کوی او حتی د کابل په هوایی ډګر کښی کډوالو ته خاص ترمینل جوړه وی.

- د ۲۰۱۶ د دسمبر په ۱۴ لومړی ځل لپاره ۳۴ ځوان افغانان فرانکفورت نه کابل ته دیپورت شو په داسې حال کې چې په اصل کې په پام کې او چه ۵۰ تنه دیپورت کړی، خو له نیکه مرغه د۱۶ تنو کډولو دیپورتی د بې‌لابېلو لاملونو پر بنسټ په وروستۍ شېبې که ودرول شو.

- خو: دا ډول هوکړه لیک پدی معنی نده چه سمدلاسه دی د افغان کډوالو دډله الیز ویستلو لامل شی او د هغه پلی کول ښایی زیات وخت ونیسی . یوازی په جرمنی کښی ۱۴۰۰۰ افغانان چه د تحمل یا (Duldung ) حالت لری موجود دی او په سویډن ، ناروی او ډنمارک کښی تر دی لا هم زیات دی . اوس مهال دا هم په سمه توګه ځرګنده نده چه افغان حکومت به نوموړی هوکړه لیک څرنګه عملی کوی ، تراوسه یوازی د ګوتو په شمیر کسان د جرمنی څخه افغانستان ته ( په ۲۰۱۵ کال کښی د ټول المان څخه ۹ کسان پداسی حال کښی چه د ۲۰۱۶ کال د دسمبر ۱۴ چرتر الوتیکه سره ۶۰ کسان افغانستان ته بیرته استول شویدی .

- کوم څه چه په منظم ډول روان دی هغه دادی چه ځینی کسان په خپله خوښه افغانستان ته ځی نودا پدی معنی ده چه دا خلک په خپله خرښه او د خپلی پریکړی او امضا سره خپل هیواد ته ستنیږی چه دا کار اکثرآ بعضی کسان پرته لدی چه د پایلو خبر وی د خپلی خوښه په بنیاد تر سره کوی . که چیری تاسی دا کار د ممکنه راتلونکی ګام په توګه په پام کښی نیسی نو باید پدی اړه د پورته یادو شوی شمیری سره اړیکی ونیسی تر څو وروسته پښیمانه نشی ځکه مونږ په کراتو لیدلی چه ځینی خلک وروسته د راستنیدونه د دوهم ځل لپاره اروپا ته تښتیدلی دی .

- د جرمنی لپار ه مونږ اټکل کوو چه د اوس لپاره یوازی د مجرده او د ښه صحت ځوانو نارینو ایستل به دوام ومومی نو احتمالاً چه متضرر اشخاص لکه فامیلونه ، مجرد نجونی او زاړه افراد نه ویستل کیږی په پای کښی که مونږ هغه کسان حساب کړو چه ددوبلین د تګلاری له مخی به د حمایت یا د پاتیکیدو اسناد تر لاسه کړی نو د دی داسی افغانانو لپاره هم دا اوس هم په جرمنی کښی د پاتی کیدو چانس زیات دی . په ۲۰۱۵ کال کښی دا چانس ۷۸ فیصده وه خو د ۲۰۱۶ کال د نومبر میاشته کښی لاهم دا چانس تر ۶۰ فیصده پوری پاتی شویدی او یوازی په تیرو څومیاشتو کښی دغه فیصدی کښته راغلی ده پدی معنی چه د مهاجرت دفتر ځینی سیمی په افغانستان کښی خوندی بولی لدی امله د قبلیدو شرایط ډیر سخت او جدی نیسی ځکه دوی ادعا کوی چه د پخوا په پر تله یو کس کولی شی چه د هیواد دننه هم په ځینو خوندی سیمو لکه کابل او هرات چه اوس پکښی په نسبی ډول امنیت ښه دی ژوند وکړی .

اکثرآ د پخوا په خلاف یو کس کولی شی په داخل د مملکت کښی متبادل د امن ځایونه لکه هرات او کابل چه پکښی امن دی پیدا او استوګن شی.
د اروپایی ټولنی د هیوادنو د تبلیغاتو په خلاف افغانستان امن نده ! دلته خلک هره ورځ خپل ژوند له لاسه ورکوی او په بریدونو ، بمونو او انتحاری حملو کښی تپیان کیږی . تاسو باید ډیره هڅه وکړی چه چارواکی په مشخص ډول سره پدی پوه کړی چه شخصاً واقعآ په افغانستان کښی د خطر سره مخامخ یاست .

- ښایی د کډوالو شمیر ډیر لوړ شی اما ددغه هوکړه لیک اصلی موخه د کډوالو په منځ کښی د ویری او ډار خپره ول دی ترڅو خپله لاره بدله او یا په خپله خوښه بیرته ولاړ شی او یا هم دلاری څخه بیرته وګرځی . دوی هیله مند دی چه هر افغان به د خپلو خپلوانو او دوستانو سره په افغنستان ، پاکستان او ایران کښی اړیکه ونیسی او ورته به ووایی چه اروپا ته مه راځی ځکه تاسو دلته چانس نلری .

مونږ به لاسونه سره ورکړو تر څوسره یو شو او دیوی اجماع په رامنځ ته کولو سره دوی ته اجازه ورنکړو چه ګټوونکی شی او د خلکو په منځ کښی ویره چه هغوی له پخوا هم په کافی اندازه ستونزی لری رامنځ ته کړی او تر ټولو مهه خبره دا چه وارخطا شی . که چیری تاسی وریږی چه دتړون یا هوکړه لیک له امله اغیزمن کیږی مهربانی وکړی د خپل وکیل او یا یو مشورتی دفتر څخه مرسته وغواړی او دهغوی په مشوره او کومک سره معلومه کړی چه څنګه د پاتی کیدولو حق تر لاسه کولی شی.

---

**د افغان کډوالو د پناه غوښتنی د کړنلاره په اړه ځینی ګټور معلومات**

دا کړنلاره په بیلابیلو پړاوونو که د مختلفو اړتیاوو شتون لري .نو موږ دا کړنلاره په دریو بیلابیلو برخو په لاندې توکه ویشل:

**۱ په خطر کې زیاتره  :ټول هغه کسان) او په ځانګړې توګه ځوان او روغ سړي (چې  د پناه غوښتنې د کړنالرې د منفي پریکړې وروسته یوازې "Duldung" لري.**

**۲ که تاسو تر اوسه د خپلې مرکې لپاره په تمه یاست.**

**۳ که د تاسی مرکې شوی ده، خو تاسو تر اسو پوری پریکړه لیک نه دی ترلاسه کړی او یا هم دا چی تاسې منفي پریکړه لیک ه ترلاسه کړ، خو تاسو د محکمې څخه د دوهم پرېکړې لیک لپاره په تمه یاست.**

**۱ په خطر کې زیاتره :ټول هغه کسان) او په ځانګړې توګه ځوان او روغ نارینه (چې  د پناه غوښتنې د کړنالرې د منفي پریکړې وروسته یوازې "Duldung" لري.**
د دسمبر ۱۴ د دیپورتی په ورځ په چرتر الوتکې کی موږ لیدلي چې دا هغه زیاتره افغان ځوانان او، چې په جرمني کې په مختلفو اندازو وخت تیر کری وه .ټول دغه کسان په  (Bundesamt) ګی او په محکمه دوه ځلې رد شوي وو، .هغوی د کور نه یا د هغوی د کار د ځایونو نه او یا له مخکې نه راټول شوي، وو او یا هم څو ورزه مخکی دیپورت مرکز ته راستول شوی وو.
مونږ د هر هغه چا د پاره چې یوازې د  "Duldung" اسناد لری سپاربښتنه کو چه د قبولیدو څه لاری لری،  مونږ کولای شو چې تاسی ته د پنځو مختلفو لارو سپاربښتنه اوکړو.

**الف -** که چیری تاسو د ۲۰۱۶ کال د اګست د میاشتی را بدی خوا دحرفوی (Ausbildung) زده کړی کړی وی نو تاسی د (Ausbildungsduldung)په نامه یو سند ترلاسه کولی شی په  ټوله هغه موده کښی چه تاسو د (Ausbildung) حرفوی زده کړی تعقیب کړی نو تاسو د پاتی کیدو یا د تحمل د حالت حق لری نو په دی حالت کښی هیڅ څوک تاسی نشی ویستلی او دا پدی معنی ده چه دغسی د حرفوی زده کړی پراګرامونه کله ناکله به دا اداری تاسوته د نه ځواب هم درکړی نو پدی صورت باید دا دنه ځواب په لیکلی بڼه درکړی چه بیا تاسی کولی شی په یوی محکمی کښی ددی پریکړی په وړاندی د استیناف غوښتنه وکړی چه دا داستیناف غوښتنه اکثرآ بریالی وی ، ځکه چه دا ناروا عمل دی چه نوموړی اداره ستاسو غوښتنه رده وی نوتاسو پدی اړه دلته په المانی ژبه معلومات پیداکړی.
پته  :  https://www.proasyl.de/news/anspruch-auf-ausbildung-informationen-zur-neuen-rechtslage-fuer-geduldete/
**ب -**همدارنګه د قانون دa ۲۵ ماده په بنسټ هر هغه ځوان چه د ۲۱ کلو څخه عمر کم وی او یا لږ تر لږه د څلورو کلونو را پدی خوا یی په کښی اوسیدلی وی ، او همدارنګه د قانون د b ۲۵ مادی پر بنسټ  هغه ځوانان چه سن د ۲۱ کلو څخه زیات وی او په جرمنی کښی لږ تر لږه د ۶ کلونو راهیسی د خپل فامیل او اولادونو سره په المان کښی اووسیږی او همدارنګه د هغه لویان چه بی له ماشومانو څخه لږترلږه د ۸ کلونو لپاره په المان ژوند کوی د قبلیدو امکانات ډیر دی .نوتاسو پدی اړه دلته په المانی ژبه معلومات پیداکړی.
پته http://www.einwanderer.net/fileadmin/downloads/___25a/__25a.pdf :
**ت -** حتی که تاسی د پناه غوښتنی د قوانینو د ټولو پړاونو تر پایه پوری منفی ځواب ترلاسه کړی وی نو بیا هم چانس لری چه ددولت ، پارلمان او د سختیو په صورت کښی د (Härtefall-Komission) دچارپیریال کښی دیو ځای کیدو په بنسټ تاسو ته د پاتی کیدو حق درکوی . د هغه کسانو څخه ددفاع کول او د ایستلو یا اخراج څخه دمخنیوی  کړنلاره به دیره ستونزمنه وی چه په جنایی جرمنونو تورن وی که چیری د جرم سزا ډیره زیاته وی نو د (Härtefall-Komission) څخه غوښتنه هم څه نشی کولی نو پس لدی باید د نشی توکو او د هغو شیانو له کاره وباره څخه په کلکه ډډه وکړی چه دهغه په اساس د ستاسو دجرم اوسزا د زیاتیدو سبب ګرځی.
**ټ -** که چیری نوی لاملونه شته : د مثال په توګه نوي طبي ستونزو، رواني ستونزو ، چې مخکې شتون نه درلود .او اوسمحال شتون لری د یو نوی پناه غوښتنی پروسه یا (Folgeantrag) امکان برابر وی .تاسی باید خپل وکیل سره اړیکه تینکه کری ترسو نور معالومات ورکی .او یا تاسو پدی اړه دلته په المانی ژبه معلومات پیداکړی.
پته https://www.proasyl.de/hintergrund/hinweise-fuer-afghanische-fluechtlinge-und-ihre-beraterinnen/ :
**ج -** که ستاسو په مدنی حالت کی څه بدلون راغلی) د مثال په توګه:که چیره تاسو د جرمني کوم تبعه یا هغه کس چې لا له وړاندې نه دلته د پاتې حق لړی واده کړی یی او یا تاسو یو ماشوم چې په آلمان کې د اوسیدو حق لري او تاسو د هغی نه پاملرنې کوی (.دغه حالت ته بدلون ورکوي .تاسو له خپل وکیل سره او یا مشورې-دفتر سره مشوره وکری چه څرنګه د دی نوی حالت پر بنسټ د تاسی د پاتیکدو حق خوندی شی.
په صورت کښی چه تاسو په پام کښی لری چه دجرمنی څخه ووځی او یو بل هیواد ته ولاړ شی نو دا به زیات ګټور وی چه تاسو پدی اړه دوه ځلی فکر وکړی چه ترڅو مو ځان لدی نه هم د خراب حالت څخه ژغورولی وی او پدی هکله تاسو ډیر ګټورمعلوما ت او تماسونه په لاندی پته موندلی شی  :  http://W2eu.info/
او دا دیره ګټوره ده چه تر وتلو مخکی د مشوری غوښتنه وکړی ځکه چه تاسی  باید دا به پام کښی ونیسی چه په ډیرو مواردو

کښې په خانګړی ډول چه خلک له وړاندی نه دلته ثبت او راجستر شوی او دلته ژوند ی کړی وی په ځانګړی توګه دډوبلین او یا دالمان څخه دتاسو ددوهم ځل ویستلو چانس هم شتون لری.

**په ځانګړی ډول د بایرن په ایالت کښی** : هغه افغانان چه یوازی د تحمل اویا duldung اسناد لری )د ټولو طرز العملونو په نظر کښی نیولو سره بیا هم منفی ځواب ترلاسه کړی او پرته د تحمل یا duldung سند کوم بل حالت نلری ( ښایی د چارواکو څخه د ګواښ اسناد تر لاسه کړی که چیری تاسی یو سند ترلاسه کړی نو دا پدی معنی ده چه تاسو به ژر تر ژره د المان څخه وویستل شی نو پدی صورت کښی لطفآ دیو مشورتی دفتر اویا خپل وکیل سره د ځان د پاتی کیدو په اړه خبری وکړی.

- په پام کښی ده چه د اروپایی ټولنی هیوادونه به دا زمینه مساعده کړی هغه افغانان چه په یو افغان سفارت یا قونسلګری کښی د پاسپورت غوښتنه وکړی او دا پدی معنی ده چه دا دسفر اسناد یا Laissez Passer ) ) به اروپایی ټولنه پدی قادره کړی چه افغان کډوال هم د اعتبار وړ افغانی پاسپورت نه پرته اوباسی . په پایله کښی تاسو کولی شی د افغانستان د سفارتونو نه چه زیاتر ه وخت له تاسو نه دوه ځلی پوښتنه وکړی چه که تاسو په ربښتیا غواړی چه یو پاسپورت تر لاسه کړی نو د افغان سفارتونو په دا ډول کړنه اعتبار مکوی .

---

## ۲ که تاسو تر اوسه د خپلی مرکې لپاره په تمه یاست.

۱ ـ په جرمنی کښی د پناه غوښتنې کړنلاره اوس د پخوا په پرتله په چټکی سره په مخ روانه ده او د پناه غوښتنی په اړه د مرکی لپاره ډیر کم وخت لری . دیادولو وړ ده چه د پناه غوښتنی په اړه د مرکی مخکی او پرته لدی چه اسناد یی و څیړل شی نه ویستل کیږی

**۲ ـ** حتی که د مهاجرت د اداره (Bundesamt) یا (BAMF) څخه منفی ځواب تر لاسه کړی نو دا به اخری خبره نوی او کولی شی یو بل چانس هم ولری ، که چیری تاسو د قانون په رڼا کښی د محکمی د پریکړی په وړاندی د استیناف غوښتنه وکړی نو مونږ تمه لرو چه ډیری محکمی به ددی سختی پریکړی د اصلاح غوښتنه وکړی او یا داچه په دوهم پړاو کښی به زیات شمیر خلک د پاتی کیدو حق تر لاسه کړی نو ډیر اړین دی چه خپل پست (Mail ) په منظم ډول سره هره ورځ وګوری تر تاسو د استیناف د حق او د هغه د نیټی څخه محروم پاتی نشی.

**۳ ـ** تر ټولو هغه کسان زیاتره په خطر کښی وی چه ځوان او دښه صحت خاوند او بیدون د کورنی نه اوهم هغه کسان چه د کابل او یا دی ته ورته سیمو نه چه نسبآ خوندی سیمو نه راځی تر ټولو زیات اغیزمن کیدای شی.

**۴ ـ** دا ډیره ښه ده چه د پنا ه غوښتنی د کړنلاری مطابق همیشه چمتو اووسی او څو اشاری کولی شی چه د ښو پایلو د لاسه ته راوړلو لپاره تاسو سره مرسته وکړی.

**الف ـ** د مرکی نه مخکی : د مشورتی دفتر سره اړیکی ونیسی تر څو هغوی تاسو سره د مرکی د چمتوکولو لپاره مرسته وکړی .تاسو کولی شی په لاندی ویب پاڼه کښی په المانی او دری باندی د پناه غوښتنی د مرکی په اړه معلومات تر لاسه کړی.

پته :انګلیسی http://w2eu.info/germany.en/articles/asylum.html

دری http://w2eu.info/germany.fa/articles/germany-asylum.fa.html

**ب ـ مرکه:** دلته باید تاسی د هغه څه په اړه چه په ربښتیا سره ستاسو او ستاسو د کورنی سره شویدی په تفصیل سره خبری وکړی تاسو باید په ډیر ارامی سره د هغه څه په اړه په مفصل ډول سره معلومات ورکړی چه د ستاسو د بیرته ستنیدو په صورت کښی تاسو تهدیدوی او یا تاسو تری په ویره کښی یاست.

**ت :** همدارنګه هغه کډوالو چه د اوږدی مودی لپاره چه په ایران او پاکستان کښی اوسیدلی وی هم باید د امکان په صورت کښی په تفصیل سره خپلی ستونزی تشریح کړی او همدارنګه هغه افغانان جه په نورو هیوادونو کښی زیږدلی او لوی شوی دی ورته دا ډیره مهمه ده د چه واضح کړی چه افغانستان په سمه تو ګه نه پیژنی او هلته هیڅوک نشته ددوی ملاتړ نکوی.

**ټ ـ** په مرکه کښی د یوی خاصی قضیی په باره کښی چه د حقیقت څخه لری وی او یا ستاسو د مشکلاتو سره کوم تړاو نلری خبری مکوی ځکه زیاتره داسی قضیی د ( BAMF) له ادرسه وی او دوی کولی شی تاسی د دروغو په ویلو تورن کړی او دا به تاسو ته ډیره مشکله وی چه خپلی خبری) جملی (وروسته سمی کړی چه پدی صورت کښی به دهغوی غبرګونونه هم سم نوی.

**ج ـ** ځوان او سالم نارینه او همدارنګه هغه بی سرپرسته ماشومان چه ژر به ۱۸ کلن شی : که د کورنی غړی په کابل او یا دافغانستان په نورو خوندی سیمو کښی اوسی دا به به ورته ستونزمنه شی په تیره بیا که تاسو په منظمه توګه له هغوی سره اړیکه ولری BAMF به استدلال وکړی چه که چیری تاسی بیرته را ستانته شی د کورنی غړی مو کولی هلته له تا سو سره مرسته وکړی.

**چ ـ** دا ډیره مهه ده چه له هماغه پیل څخه د روغتیایی حالت د خرابوالی او د صحی ستونزو د موجودیت په صورت کښی د یو

داکتر څخه طبی اسناد تر لاسه او د تل لپاره د ځان سره ولری او دا که په ځانګړی توګه روانی ستونزی چه کولی شی په افغانستان او یا هم د خپل سفر څخه ناوړو خاطرو له وجه پیداشوی وی . ځینی کسان دغه نښی نښانی چه عبارت له بی خوبی ، بد خوبونه ، سر خوږی ، د اعصابو نه تمرکز او داسی نوری ستونزی پیژنی (Traumatizaton) چه دا د صدماتو نه وروسته فشارونه یا روانی ناروغی نومیږی ، که چیری تاسی کولی چه دغه ډول طبی / روانی اسناد تر لاسه کړی کولی شی چه د ستاسو د پناه غوښتنی کړنلاری سره مرسته وکړی او تاسو باید د پناه غوښتنی په مرکه کښی دا اسناد د ښولو لپاره د ځان سره ولری او یا ستاسو د پناه غوښتنی د غوښتنلیک د ردید په صورت کښی بهرنیو ادارو ته وسپاری.

**د -** که چیری تاسی افغانی پاسپورت او یا تذکره ولری : دا زیاتره وخت ډیره خطرناکه ده چه خپل پاسپورت یا تذکره مخکی لیدنه چه د ستاسو دخپلی پناه غوښتنی په اړه مثبته پریکړه تر لاسه کړی هغوی ته وړاندی کړی دا بهتره ده مخکی لیدینه چه پاسپورت او یا تذکره ورکړی د مشورتی دفتر او یا یو وکیل سره مشوره وکړی او یا دهغوی نه په دی هکله پوښتنه وکړی.

**۳ . که د تاسی مرکي شوی ده، خو تاسو تر اسو پوری پریکړه لیک نه دی ترلاسه کړی او یا هم دا چی تاسي منفي پریکړه لیک ه ترلاسه کړ، خو تاسو د محکمې څخه د دوهم پرېکړې لیک لپاره په تمه یاست.**

په جرمنی کښی د پناه غو ښتنی پراونه یو څه زیات وخت نیسی:
ــ کیدای شی بعضی وختونه دا د ځینی کسانو لپاره ستره ستونزه شی سره لدی چه د زیات انتظار او ستیا سبب ګرځی اما دا انتظار به هغه چا ته په ژره پوری وی کوم چه د قبلیدو کم فرصت لریاما د پاتی کیدو حق ترلاسه او دخپل فامیل سره یو ځای شی سره لدی چه د انتظار دا وخت کولی شی د هغه کسانو لپاره چه په لومړی پړاو کښی د مهاجرت په اداره (Bundesamt) یا (BAMF) کښی د پاتیکیدو کم چانس یا د ګټلو حق لری به ډیر ګټور وی نو که چیری لدی نه په سمه تو ګه استفاده وکړی نو ځان به د محیط سره یو شان کړی یعنی ژبه به زده کړی ،کار به پیداکړی او یا به د تحصیلاتو لپاره زمینه برابره کړی چه درس ووایی او هم داچه ددوستانو اوملګرو سره ارتباطات برقرار کړی چه د تاسو د پاتی د حق لپاره به دتاسو سره یو ځای مبارزه وکړی چه دا به په اوږد مهاله کښی ډیر ګټور تمام شی . که چیری د پناه غوښتنی غوښتنلیک منفی پایلی ولری نو دریمه لاره هم شته چه په لاندی دری نخسو کښی تشریح کیږی.

ــهغه څه چه مونږتصورکولی شو هغه داده چه په ځینو مواردو کښی چاړواکی هڅه کوی چه دنورو د ډارولو په منظور او یا دمثال جوړولو په هدف بعضی کسان وباسی) خارج(خو دا هم امکان لری چه په اخری شیبو کښی د ویستلو یا خروج لړی ودروی نو مونږ تاسو ته سپارښتنه کوو چه یو بل سره اړیکه ولری او د خپل د مشکلاتو په باره کښی خصوصآ د دمنفی ځواب د اخیستلو په صورت کښی دنورو سره شریک کړی دراتلونکو ګامونو د بورته په منظور د منفی ځواب په مقابل کښی د مبارزی به هدف سم پلان جوړ او بر مخبوزی . زمونږ تجربه ښئ چه دا مبارزه چه دا مبارزه که څه هم وخت نیسی خو په پای کښی د بریالیتوب امکان ای ډیر زیات دی او تاسو کولی نور معلومات په انګریزی ، دری او المانی ژبو دلته تر لاسه کړی.
لطفا د معلوماتو په لومړۍ برخه کې د(Ausbildungsduldung) ، د قانون دa ۲۵ ماده، د قانون د b ۲۵ ماده، د (Härtefall-Komission) او د ( Petition)په باره که غور سره ولولي.
د دغو ټولو انتخابونو دپاره دا مهمه ده چي دی:

- تاسو جرمني ژبه زده کړی.
- تاسو باید ځان ته کار پیدا کړی ترسو چه په خپل پیسی پیدا کړی او بشری مرسته یا (Social Welfare) ته ارتیا ونلری.
- دا کیدای شي چی دیره ګټوري وي چي تاسوځان په جامعه کی" اتغام "کړی، دا په دی معنی دی چه ، فوټبال ، هنر، موسیقی او یا تاسو کوښښ کړئ چي په خپله خوښه د چا سره مرسته وکړی او داسي نور کارونه.

# What is w2eu.info?

w2eu.info provides contacts and counselling to refugees and migrants on their way. At the outer borders of Europe, people are refused entry, they are imprisoned and deported. Nevertheless people are coming. w2eu.info is supporting you who come to Europe in your struggle for a better life. We welcome all travellers on their difficult trip and wish you all a good journey - because freedom of movement is everybody's right!

*Permalink to this leaflet: http://w2eu.info/germany.en/articles/germany-deportation-afghanistan.en.html*

| Internet: www.w2eu.info | Updates: http://live.w2eu.info | Contact: contact@w2eu.info - \|w2eu_info@yahoo.com |
| --- | --- | --- |